ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.3, 2024

# د ډاکټر علي خېل درياب په مجموعه "د رنګونو درياب" کښې د پښتو محاورې پکارونه : يوه تحقيقي مطالعه

# The Usage of Pashto Idioms in Dr. Ali khel Daryab's collection " Da Rangunu Daryab: An Exploratory Study

ډاکټر شهاب الدين[1]
ډاکټر بادشاه روم[2]

## ABSTRACT

*Dr. Ali Khail Daryaab, a prominent figure in modern Pashto ghazal poetry, has distinguished himself through his unique style and profound linguistic mastery. Having published eight collections of poetry, his work is a testament to his artistic brilliance and deep connection with the Pashto language and its cultural nuances. This article delves into his poetic collection Da* Ranguno Daryaab, *with a particular focus on the use of idioms, a defining feature of his creative expression. Through a detailed examination of the idiomatic richness in this collection, this study provides insights into Ali khel Daryaab's innovative approach to idioms in Pashto ghazal, offering a framework for students and researchers to understand and appreciate the nuanced and correct usage of idiomatic expressions in his work. This analysis not only highlights Ali khel Daryaab's contribution to modern Pashto literature but also serves as a valuable resource for exploring the intersection of language, culture, and poetic art.*

## Key words:

Dr. Ali khel Daryab, Pashto, Modern, Poet, Ghazal, Unique, Style, Linguistic, Mastery,Artistic, Brilliance, Collection, Da Rangunu Daryab, Idiomatic richness, Valuable resource, language, Culture, Poetic Art.

"د رنګونو درياب" د ډاکټر علي خېل درياب اتمه شعري مجموعه ده. يوسل پينځلس غزلې پکښې راوړلې شوي دي. په پښتو ادب کښې داسې کتاب چې صرف د غزلو ببلګه وي چې نه نظم لري، نه قطعه، نه رباعي او نه نور شعري صنف يو منفرد کتاب دے. دا کتاب که يو خوا ته د مادي فولکلور او د نيم مادي فولکلور بلها اشعار لري نو د غېر مادي فولکلور په حواله هم ډېر شتمن دے. د غېر مادي فولکلور په منظومه برخه کښې ټپې، روزمرې، اړونه، متلونه او ورسره ورسره محاورې هم شاملې دي. د ډاکټر علي خېل درياب "د رنګونو درياب" کښې تقريباً پنځوس محاورې راوړلې شوي دي. محاوره د دوه يا درې لفظونو نه جوړېږي چې په مجازي معنو کښې په استعمال کښې راوړلې شي. د محاورې باره کښې لعل بادشاه خيال داسې ليکلي دي.

> "محاوره مکمله جمله نه وي بلکې دا په خپله د يوې بلې جملې محتاجه وي محاوره په خپله د يوې بلې داسې جملې محتاجه وي چې د محاورې استعمال پکښې په صحيح توګه اوکړې شي. او سړے پرې په اسانه پوهه شي."[1]

محاورې په اصلي معنو کښې خبرې اترې دي. خو په اصطلاح کښې د اصل زبان خبرو او د دغه خبرو اترو انداز او اسلوب ته محاوره وئيلے کېږي خو داسې هم نه ده چې د اصل زبان هرې خبرې يا خبرو ته روزمره

---

[1] ليکچرر ګورنمنټ ډګري کالج جوړ بونير

[2] ايسوسي ايټ پروفيسرشعبه پشتو يونيورستي آف ملاکنډ

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.3, 2024

وئیلے شي د روزمره معنی او مفهوم وسیع وي خو محاوره به محدوده معنی او مفهوم لري. د محاورې په باب کښې د پروفیسر فضل میرخټک یو اقتباس مخې ته راوړو چې د محاورې وضاحت نور هم اسان شي.

"د محاورې نه مراد هغه افعال دي چې د بل فعل یا اسم سره یو ځاے شي او د حقیقي معنې په ځاے مجازي معنی مراد اولري. لکه اوبه څښل محاوره نه ده اوښکې څښل محاوره ده داسې روټۍ خوړل محاوره نه ده ولې غم خوړل، سوګند خوړل او دهوکه خوړل محاورې دي."[2]

محاوره هم لکه د متل د غیر مادي فولکلور اهم جز دے. د دې جوړونکے یو کس او یو خاندان نه بلکې ټول اولس په شریکه وي. د محاورې په باره کښې بوډا خیل داسې لیکلي دي.

"محاوره د یو شمیر لفظونو داسې ښائسته ترتیب وترکیب دے چې د اصلي معنو په ځاے مستعار مطلب په ډیره مهذبه او موثر ډول ښکاره کوي محاوره هم لکه د متل فولکلوري ادب توکے دے. د دې زیږونکي یو کس نه بلکې ټول اولس وي."[3]

لنډه دا چې محاوه هم لکه د متل د اولس ژوند ته لاره روښانه کوي ولې چې محاوره د عقل، پوهې او ذهانت نه ډکه وي. ډاکټر علي خیل دریاب څه نوي او څه زړې محاورې په لیک کښې خوندي کړې دي چې پکښې اور لګول، په زړۀ ګټه کیښودل، په ډکه خلۀ خندل، لارې څارل، زړۀ توریدل، رڼا ترورل، زړۀ سپینیدل، ستورې شمارل، ګوتې کول، تسمې ویستل، لاس اخستل، لوبې کول، شګې شمارل، لاره نیول، زړۀ چاودل، پلپولک مړل، د سر نه نیول، زړۀ تشول او څه نورې محاورې هم شاملې دي. ډاکټر دریاب دغه محاورې دومره په خوند خوند استعمال کړې دي چې په لوستو کښې خوند هم کوي او مزه هم کوي او ورسره ورسره د ژبې په پراختیا کښې لوے لاس هم لرلے دے. لکه دا محاورې اوګورئ.

۴. اور لګول:

"خومره بې درده ئې زما دې هډو خیال اونه کړو
زما د خوږ زړۀ په ارام باندې دې اور اولګوو"[4]

"وخت او حالت د محبت په دښمنۍ راغلي
دریابه اور زمونږ په هره منصوبه لګوي"[5]

"تا د بېلتون لمسو کښې ونغښته
تا مې د ژوند په اونه اور اولګوو"[6]

۷. په اور کښې نیول: چا ته ډیره مشکله جوړول. ډیر زیات نقصان ورکول. په چا ترس نه راتلل. دا محاوره ئې داسې راوړې ده.

"مونږ ئې نیولي یو په اور کښې دواړه
د وخت په سترګو کښې نمک نشته"[7]

۸. په مرۍ کښې اوبه ښکارېدل: ډېر ښائسته ښکارېدل. د چا ډېر زيات صفت کول. د چا د يو ښائسته څيز سره مناسبت ورکول.

"ښاپېرۍ ئې د ګرد نه وي په سيالۍ کښې
د هغې خو اوبه ښکاري په مرۍ کښې"[8]

۱۰. په اور نيول: سزا ورکول. ظلم او زياتې کول ناکړدې، تکليف رسول. . چا له داسې سزا ورکول چې زړۀ ئې خوږ شي.

"تا چې مئينان په اور نيولي دي
دا خو دې رقيبه د اولاد اوؤه"[9]

۱۱. په زړۀ ګټه کېښودل: د دې نه مطلب ځان صبرول دي. د يوې خبرې نه په قلاره کښېناستل دي.

"تۀ چې تللې ما په زړۀ تيږه کېښوله
تۀ چې پاتې شوې نو زړۀ مې دې لېوال کړو"[10]

۱۲. په زړۀ کښې اوسېدل: څوک په ځان ډېر ګرانول. درناوې زياتېدل. قدر سپوا کول. هر وخت ورياد ېدل.

"تۀ که مې د زړۀ نه هر څو اوباسې
زۀ به دې هم بيا په زړۀ کښې اوسمه"[11]

۱۳. په ډکه خلۀ خندل: ډېره خوشحالي کول. د ډېرې خوشحالۍ ارمان کول.

"ما په ډکه خلۀ چرته خندلي دي
ما خو په دردونو کښې ژوند کړے دے"[12]

۱۴. تسمې ويستل: تباهي او بربادي کول. مشکلات راتلل. ګرانې کړمې، دردونه او تکليفونه راتلل.

"چې تسمې ئې د سرې ويستلي نه وي
هېرول د محبت دومره اسان دي"[13]

۱۵. ځان له کار کتل: په غم او مصيبت اوړېدل. داسې کار کتل چې زړۀ او بدن دواړه پرې پرېشانه شي. عاشقي شورو کول. مئينېدل.

"ځـان لـه بـه کـار ګـوري ارومـرو پوهېږمـه زهٔ
زمـا پـه خلـهٔ خـو غـنم رنګـه جینـۍ نـه سـمیږي"[14]

۱۶. خوا یخېدل: زړهٔ خوشحالېدل. خواهش او ارمان پوره کېدل. د خوا مطلب روح او نفس خو دلته ئې زړهٔ معنی اخستې شي. چې دشمن ته زیان او تاوان ورسي نو د بنده خوا یخه شي.

"خـــوا دې یخـــه د ســـنګینو ارادو کـــړه
دا ژونـدون راباندې تنـګ کـړه بیـا بـه ځـې"[15]

۱۷. د زړهٔ نه ویستل: هېرول. د یو چا سره رابطه نه ساتل. راشه درشه ختمېدل د سوچ او خیال نه ویستل. بې غوري کول.

"بیا خو به دې زهٔ د زړهٔ نه ویستې یم
سوچ ته چې دې ګام په ګام کښې نه راځم"[16]

۱۸. د سر نه نیول: په چا په دروغه دعوی کول. د خبرې اصل راز او حقیقت معلومول. په څه چل ول د چا نه د راز خبره معلومولو یا ایستلو ته د سره نیول وئیلې شي.

"دا وختونـــه خـــو د هـــر څـــه نـــه خبـــر دي
دا وختونـــه هســـې مـــا نیســـې د ســـر نـــه"[17]

۱۹. د زړهٔ زخمونه شمارل: ګران کار کول. هره سخته په ځان تېرول او وړل.

"چرتـــه ورګـــډ پـــه لالـــه زار کښـــې یمـــه
کنـــه زخمونـــه مـــې د زړهٔ شـــمارمه"[18]

۲۰. درنې سپکې وړل: هره خبره منل. د بل دپاره جائز او ناجائز کار کول. د بل هره خبره په خوشحالۍ سره منل. ځان بل ته سپارل او حواله کول.

"تـــا ذوق جمالـــــه غورځـــــولے یـــــم
ځکـــه خـــو درنـــې ســـپکې د بشـــکلو وړم"[19]

۲۱. د اوسپنې څپلۍ اخستل: ډېر ګران او اوږد کار له غاړه ورکول. د اوږدې مودې پورې یو کار اغاز کول.

"اوس خو به په تا پسې د اوسپنې څپلۍ واخلم
اوس خو به د سترو فاصلو سره مخ کیږمه"[20]

۲۲. دلته اقبال شاکر هم دغه محاوره ډېره زړهٔ راښکونکې راوړې ده. لکه دا شعر

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.3, 2024

"د اوسپني څپلۍ چې په غزل پسې زړې کړي
شاکره نو شاګرد چرته د ګران به درنه جوړ شي"[21]

۲۴. زړۀ توربېدل: د څه څيز، بنيادم يا کار نه مړا خوا کېدل. لکه داشعر وګورئ چې دا محاوره ئې څومره خوندوره راوړې ده.

"دا چې زړۀ زما توربېږي د هر څه نه
لکه زۀ چې دې ويستلے يم د زړۀ نه"[22]

۲۵. زړۀ شين کول: په څه کار، روزګار، کړاو، خواري او محنت مشقت کښې ډېر سترې کېدل.

"کله کله په بوسه راله زړۀ شين کړي
کله کله دې حېران شمه شومتوب ته"[23]

۲۶. زړۀ شين کېدل: زړۀ شين کول او زړۀ شين کېدل دواړه يو څيز دے د دې مطلب هم دغه جوړيږي چې ډېره زياته سخته او تکليف تېرول. خواري او کړاو کول.

"په کتلو لټولو مې زړۀ شين شو
د رنګونو په درياب کښې رانه ورک دے"[24]

۲۷. زړۀ تشول: يو بل چا ته خپله پاکي بيانول. ګيلې کول. کله کله دا محاوره ډېره ښکلې استعمال شي. دلته ګل بام د ډاکټر درياب کور ته اشاره ده.

"دا ځلې به ډک زړونه يو بل ته تشول غواړي
دا ځلې چې راشي ډېرې شپې به په ګل بام کوو"[25]

۲۸. زړۀ کښې اوبۀ کېدل: يو مرض اوريدېدل. د يو کار د لاسه ډېر سترې کېدل.

"بيا به ملازې دې د ښو اورم
بيا مې د زړۀ زخم کښې اوبۀ کيږي"[26]

۲۹. زړۀ توربېدل: د څه خبرې نه، د څه شي نه، د څه کار نه يا بنيادم نه زړۀ بد شي موړ شي او بې پروا شي او په زړۀ کښې نفرت پېدا شي يا چې کله بنده ته حرام حرام او ګناه ګناه نه ښکاري او د چا په وېنا غوږ نه ږدي.

"کله کله مې دا زړۀ د ځانه تور شي
کله کله چې راګوري په ژړا شي"[27]

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.3, 2024

۳۰. زړۀ چاودل: د څه محنت او کړاو له کبله سترې کېدل یا په څه مرض کښې ډېر کړېدل یا د چا د ناکړېدو له کبله تنګ راتلل. د زړۀ د تنګ والي حالت او کیفیت ته زړۀ چاودل وائي.

"د یـــو چـــا نـــه مـــې ګیلـــې دي زړۀ مـــې چـــوي
تنهـــائي ده فاصـــلې دي زړۀ مـــې چـــوي"[28]

۳۱. زړۀ صبرول:

"زړۀ هاغـــه ګلونـــو نـــه زړۀ صـــبر کـــړه
نـــور د دیـــدنونو نـــه زړۀ زصـــبر کـــړۀ"[29]

۳۲. رنړا ترورل: ظلم کول. د چا سره تعلق ختمول. چا له وخت نه ورکول، څوک اول اشنا کول او بیا هېرول.

"تـــا زمـــا د روح تیـــارې دي رنړـــولي
پـــه ترورلـــو د رنړـــا بـــه خفـــه کېـــږم"[30]

۳۳. ستوري شمارل:

"تـــۀ خـــو کـــوې د بـــې غمـــۍ خوبونـــه
د اســـمان ســـتوري ګـــورې زۀ شـــمارمه"[31]

۳۴. ستوري شمارل: ډېره زیاته سخته په ځان تېرول. ګران کار کول. دلته ترې مطلب شوګیره کول هم اغستې شي.

"شـــمارل مـــې تـــر ســـحره پـــورې ســـتوري
پـــه حـــرام کښـــې یـــو ســـاعت اودۀ ووم"[32]

۳۵. شګې شمارل:

"نـــور دې د ســـره انتظـــار نـــه کـــوم
نـــورې د ســـره شـــګې نـــه شـــمارمه"[33]

۳۶. کور نغرے ورانېدل: او په نه خبره ورانېدل

"د حـــالاتو خـــو دې کـــور نغـــرے وران شـــي
چـــې زمـــونږ ســـره پـــه نـــه خبـــره وران شـــي"[34]

۳۷. ګوتې شمارل: په چا پسې ارمان کول. انتظار کول. د ليدلو ارمان کول.

"زۀ هم پوره سودائي شوے يمه
ګوتې په تا پسې دغه شمارمه"[35]

۳۸. ګوتې شمارل: په شدت سره انتظار کول. د چا د ليدلو اشتياق لرل.

"يو ورسره ګوتې د فرېب کوي
بل ئې د راتلو په ګوتو شمار کوي"[36]

۳۹. ګوتې کول: دهوکې کول، ځان په غره ډوبه کېنې ساتل. انې بهانې کول.

"يو ورسره ګوتې د فرېب کوي
بل ئې د راتلو په ګوتې شمار کوي"[37]

۴۰. لاس لرل:

"د وختونو د حالاتو نه سربېره
ته هم لاس لرلے زما په بربادۍ کښې"[38]

۴۱. لاس اخستل: په ډېره کېدل. يو طرف ته کېدل. غم غرض نه ساتل. سائېډ ته کېدل.

"ستا د انتظار نه به لاس واخلمه
سيخ به مې د زړۀ نه خنګه اوباسم"[39]

۴۲. لوبې کول: سختې راپېښېدل. مصيبت راتلل. ګرانه جوړېدل. "د رنګونو درياب" کښې درياب صاحب دا محاوره داسې راوړې ده.

"ستا ګونه ئې ورانه کړه په ما ئې لوبې اوکړې
دا ځل به د رسم نه تابيا د انتقام کوو"[40]

۴۳. لارې ثارل:

"لارې په غلا باندې درياب ته ثارې
اکثر د کور په دېوالۀ ژارې"[41]

۴۴. لارې ثارل: انتظار کول. ډېر ژړا فرياد کول. په طمع طمع وخت تېرول.

"په لوندو سترګو دريابه لارې څارم
د خپل کور د نړېدلي دېوالونه"[42]

۴۵. لاره نيول: زوړورتيا کول. مخ نيوې کول. خپل ځان غاوره حسابول.

"زمونږ لاره نيوې نه شي
د رسمونو څه دېوال دے"[43]

۴۶. نيمه نه پاتي کېدل: مطلب ډېره کمزوري کېدل. ځېل کول. ناتوانه کېدل.

"په ژړا ژړا دې ځان د کاره اوويست
خبر شوے يم چې نيمه پاتي نه يې"[44]

۴۷. وختونه رانيول: په لار راتلل، خساب کتاب کول، راګېرول.

"ذمه وار زما او ستا د فاصلو دي
ما وختونه رانيولي د ګرېوان دي."[45]

۴۸. وختونه راګېرول: د ناممکن کار ممکن او اسان جوړول. وار راتلل.

"يو ځل به زۀ ترې انتقام اخلمه
يو ځل به زۀ کړمه راګېر وختونه"[46]

مختصراً مونږ دا وئيلې شو چې درياب صاحب چې کومې محاورې په دې شعري ټولګه "د رنګونو درياب" کښې راوړي دي دلته که يو خوا د ژبې په پراختيا کښې ډېر لاس لرلے دے نو بل خوا په معنی کښې کښې ئې ژورتيا او په خيالاتو کښې سپېځلتا هم پېدا کړې ده. د ژبې په تحريري ادب کښې يو ځانګړے مقام لرلے دے. او ناوياته ملغلرې ئې د پښتو ادب د غېر مادي فولکلور په شکل کښې راځاے کړي دي.

( حواله جات References )

[1] خيالي، لعل بادشاه، د پښتو متلونو تهذيبي ولساني مطالعه، (د ايم فل تحقيقي مقاله)، علامه اقبال اوپن يونيورسټي اسلام اباد، دي پرنټ مېن پرنټرز، پېښور، 2012ء، مخ 34

[2] خټک، فضل مير، پروفيسر، فضليات، پېښور، اعراف پرنټرز محله جنګي، دريم اشاعت، جولائي 2021، مخ 469

[3] بوډا خېل، وکيل، خېرالحکيم، حکيم زئے، د پښتو محاورې، لاهور، نديم يونس پرنټرز، دريم چاپ، 2011، مخ 5

[4] درياب، علي خېل، ډاکټر، د رنګونو درياب، سوات، ګران خپرندويه ټولنه، اکتوبر 2024، مخ 131

[5] همدغه اثر، مخ 131
[6] همدغه اثر، مخ 122
[7] همدغه اثر، مخ 122
[8] همدغه اثر، مخ 142
[9] همدغه اثر، مخ 247
[10] همدغه اثر، مخ 241
[11] همدغه اثر، مخ 203
[12] همدغه اثر، مخ 212
[13] همدغه اثر، مخ 73
[14] همدغه اثر، مخ 257
[15] همدغه اثر، مخ 180
[16] همدغه اثر، مخ 113
[17] همدغه اثر، مخ 87
[18] همدغه اثر، مخ 134
[19] همدغه اثر، مخ 174
[20] همدغه اثر، مخ 263
[21] شاکر، محمد اقبال، ریدې رنګې اوبه، پېښور، عامر پرنټنګ پریس، دریم ځل، 2013، مخ 106
[22] دریاب، علي خېل، ډاکټر، د رنګونو دریاب، مخ 80
[23] همدغه اثر، مخ 94
[24] همدغه اثر، مخ 97
[25] همدغه اثر، مخ 53
[26] همدغه اثر، مخ 249
[27] همدغه اثر، مخ 226
[28] همدغه اثر، مخ 236
[29] همدغه اثر، مخ 192
[30] همدغه اثر، مخ 124
[31] همدغه اثر، مخ 134
[32] همدغه اثر، مخ 242
[33] همدغه اثر، مخ 134
[34] همدغه اثر، مخ 238
[35] همدغه اثر، مخ 134
[36] همدغه اثر، مخ 166

ISSN Online: 2709-7625
ISSN Print: 2709-7617
Vol.7 No.3, 2024

[37] همدغه اثر، مخ 166
[38] همدغه اثر، مخ 143
[39] همدغه اثر، مخ 49
[40] همدغه اثر، مخ 53
[41] همدغه اثر، مخ 51
[42] همدغه اثر، مخ 161
[43] همدغه اثر، مخ 207
[44] همدغه اثر، مخ 82
[45] همدغه اثر، مخ 132
[46] همدغه اثر، مخ 105